# التغابن

مدنی سورة دی ۱۸ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يُسَبِّحُ لِلَّهِ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۖ لَهُ ٱلۡمُلۡكُ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ١

د آسمانونو او ځمکې ټول موجودات او مخلوقات د الله تعالی پاکې او تسبیح بیانوی( چې الله تعالی واحد او لاشریک ذات او له هر عیب او نقص نه پاک او مبری دی). سلطنت او واکمنی د هغه ذات ته ځانګړې ده، ټول غوره صفات او ستاینې هغه ته منسوب دی، او هغه په ټولو چارو او اقداماتو پیاوړی او برلاسی دی.

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ فَمِنكُمۡ كَافِرٞ وَمِنكُم مُّؤۡمِنٞۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٌ ٢

الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو یې پیداکړی، بیا مو ځینې کافران شول او ځینې نور مؤمنان. او الله تعالی ستاسو د ټولو کړنو لیدونکی دی.

خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ بِٱلۡحَقِّ وَصَوَّرَكُمۡ فَأَحۡسَنَ صُوَرَكُمۡۖ وَإِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ٣

آسمانونه او ځمکه یې په حقه( او ځانګړی تدبیر) پیدا کړل او تاسو ته یې ( د نورو ټولو مخلوقاتو په نسبت) ډیر ښکلې او شانداره صورتونه درکړل، او بیرته به هم د هغه حضور ته ورګرځئ.

يَعۡلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَيَعۡلَمُ مَا تُسِرُّونَ وَمَا تُعۡلِنُونَۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ٤

( دا یوازې د الله تعالی ذات دی چې) د آسمانونو او ځمکې د ټولو موجوداتو( په شمیر او مشخصاتو) پوهیږی او ستاسو په ټولو پټو او ښکاره اعمالو هم ډیر ښه خبر دی، او د زړونو نیتونه او اسرار مو هم ورته ډیر ښه معلوم دی.

أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَبۡلُ فَذَاقُواْ وَبَالَ أَمۡرِهِمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ
أَلِيمٌ ٥

آیا تاسو د پخوانیو کافرانو له حاله خبر نه یاست چې د خپلو کفری ناوړو اعمالو سزا یې لیدلې او په دردوونکی عذاب اخته شوی وو.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُۥ كَانَت تَّأۡتِيهِمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَقَالُوٓاْ أَبَشَرٞ يَهۡدُونَنَا فَكَفَرُواْ
وَتَوَلَّواْۚ وَّٱسۡتَغۡنَى ٱللَّهُۚ وَٱللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٞ ٦

او ځکه په دغه (ناوړه عقوبت او دردوونکی عذاب) محکوم شول چې د الهی پیغبرانو روښانه دلایل یې ردول او ویل یې چې یو انسان مونږ ته لارښوونه، نشی کولی. او په دې توګه یې (له حق منلو نه) په انکار سره مخ واړاوه. او الله تعالی هم (د دوی له ایمان او اطاعت نه) د بې نیازۍ اعلان وکړ، بیشکه چې الله تعالی بې نیازه او ستایل شوی ذات دی.

زَعَمَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن لَّن يُبۡعَثُواْۚ قُلۡ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتُبۡعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلۡتُمۡۚ وَذَٰلِكَ
عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٞ ٧

کافران ګومان کوی چې( له مرګ وروسته به بیرته) راژوندی نشی. ورته ووایه: هو زما دې پخپل رب قسم وی چې هرو مرو به راژوندی شئ او بیا به مو درته ټول اعمال مخې ته کیښودل شی او دا کار الله تعالی ته ډیر اسان دی.

فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلۡنَاۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ٨

نو په الله تعالی، د هغه په رسول او د هغه په نازل کړی شوی نور( قرآن) ایمان راوړئ، بیشکه چې الله تعالی ستاسو په ټولو اعمالو ډیر ښه خبر دی.

يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ ٱلْجَمْعِ ۖ ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلتَّغَابُنِ ۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ وَيَعْمَلْ

صَٰلِحًا يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّـَٔاتِهِۦ وَيُدْخِلْهُ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ

خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٩﴾

( بې له شکه به راژوندی کيږئ) او (د قيامت) د اجتماع په ورځ به راټول کړی شئ. دغه ورځ د ګټې او تاوان ورځ ده او څوک چې په الله تعالی ايمان راوړی او نيک عملونه کوی، ګناهونه به يې ترې ورژول شی او هغو جنتونو ته به ورداخل کړی شی چې د ( ونو) لاندې يې( د الهی نعمتونو) رودونه بهيږی. دوی به پکې تلپاتې هستوګن وی او همدا ده تر ټولو لويه نيکمرغی.

وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَآ أُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ

خَٰلِدِينَ فِيهَا ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٠﴾

او هغه کسان چې د کفر لار غوره او زمونږ له آيتونو منکر شی، د دوزخ هستوګن دی چې تل تر تله به پکې پراته وی. واقعاً چې د ورتګ لپاره تر ټولو بد ځای دی.

مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ ٱللَّهِ ۗ وَمَن يُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ يَهْدِ قَلْبَهُۥ ۚ وَٱللَّهُ

بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ﴿١١﴾

هر مصيبت د الله تعالی په اجازه واقع کيږی، او څوک چې په الله تعالی ايمان راوړی، هغه به يې زړه ته د هدايت لارښوونه وکړی، او الله تعالی په ټولو چارو پوه ذات دی.

وَأَطِيعُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُوا۟ ٱلرَّسُولَ ۚ فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا

ٱلْبَلَٰغُ ٱلْمُبِينُ ﴿١٢﴾

او د الله تعالی اطاعت وکړئ او د پيغمبر فرمان ته غاړه کيږدئ، خو که ترې مخ وګرځوئ( نو پوه شئ چې) زمونږ د پيغمبر وظيفه يوازې په علانيه توګه( د الهی وحې د پيغام) رسول دی.

ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ﴿١٣﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې له هغه نه غیر بل خدای نشته نو مؤمنان باید یوازې په هغه توکل وکړی.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّ مِنْ أَزْوَٰجِكُمْ وَأَوْلَـٰدِكُمْ عَدُوًّا
لَّكُمْ فَٱحْذَرُوهُمْ ۚ وَإِن تَعْفُوا۟ وَتَصْفَحُوا۟ وَتَغْفِرُوا۟ فَإِنَّ
ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤﴾

ای د ایمان خاوندانو! ستاسو ځینې ښځې او اولادونه( چې تاسو د الله تعالی او رسول د احکامو له تطبیق نه منع کوی په حقیقت کې) ستاسو دښمنان دی، نو ترې محتاط اوسئ( او غیر شرعی غوښتنې یې مه منئ. او که (له بې ادبئ او ناپوهئ یې) سترګې پټې کړئ او ورته ببښنه وکړئ( نو الله تعالی به هم په تاسو خاصه مهربانی وکړی، ځکه) الله تعالی ډیر زیات ببښونکی او مهربان دی.

إِنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَـٰدُكُمْ فِتْنَةٌ ۚ وَٱللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿١٥﴾

ستاسو مال او اولاد ستاسو لپاره یو ازمیښت دی، خو لوی اجر او ثواب یوازې له الله تعالی سره دی.

فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ مَا ٱسْتَطَعْتُمْ وَٱسْمَعُوا۟ وَأَطِيعُوا۟ وَأَنفِقُوا۟ خَيْرًا
لِّأَنفُسِكُمْ ۗ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِۦ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ
ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿١٦﴾

نو له خپل وس او توان سره سم، له الله تعالی نه وویرېږئ، او( د حق دعوت) واورئ،( د الهی احکامو) اطاعت وکړئ او( د الله تعالی د رضا لپاره) صدقې او خیراتونه ورکړئ چې دا ستاسو لپاره ډیر غوره عمل دی او حقیقی نیکمرغه کسان هغه دی چې له بخل او حرص نه ځانونه لیرې وساتی.

إِن تُقْرِضُوا۟ ٱللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا يُضَـٰعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ شَكُورٌ
حَلِيمٌ ﴿١٧﴾

که تاسو الله تعالی ته د احسن پور په توګه( له حلال رزق نه صدقه او خیرات ورکړی) نو په مقابل کې به یې څو چنده درکړی او ببښنه به درته وکړی، ځکه الله تعالی( د ډیر لږ عمل په مقابل کې) د ډیر لوی اجر ورکوونکی او تحمل لرونکی ذات دی( چې هیڅوک د ګناه په ارتکاب سره فوراً نه مؤاخذه کوی بلکه د توبې مهلت ورکوی) .

عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ﴿١٨﴾

**په پټو او ښکاره چارو پوه، برلاسی او د حکمت څښتن ذات.**

**«تمت سورة التغابن بفضل الله و رحمته»**

**====================**